

## څنګه دافغانستان او پا کستان ترمنځ دآیمی صوله راتلی شی؟

که ده جهان اوخپل تیرتاریخ ته وه ګورو نو دا به راته په ډاګه شی چی دجهان ترمنځ سرحدونو کله به حقه او کله ناحقه اکسراً تغیر خوری او هیڅ سرحد دایمی نوی .

خو کوم شی چی مهم دی هغه دهر سرحد له ټاکلووروسته دهغی تا سیرات دواړوترفوته دی چی ګټی او تاوان ي یو او بل طرف ته څه دی ؟ او که کوم طرف ته په هغی کښی تاوان وی نو بیا دهغی سمه دحل لار کومه ده؟

اوس نو که خپل پورته اصلی سوال ته راشو چی څنګه زمونګ دسرحدی مشکل یا ډیورند خت دحل لیار ته رسیدای شوچی ده دواړو خواوپه ګټه او بیدون له وینی تویولونه وی ؟

واظح ده چی داسی یو اوږد تاریخی مشکل په یوه ورځ نشی حل کیدلی خو دحل لیار ورته شته چی هغه به زما په نظرپه لاندی ترتیب وی.

**1.** ددواړو طرفونو ترمنځ دویزی له منځه وړل.

2. په دواړو طرفونوکښی ده کار اجازه لرل.

3. په دولړو طرفوکښی ده تجا رت حق یو بل ته.

4. په دواړو طرفو کښی د ملکیت رانیول.

5. په دواړو طرفو کښی دتعلیم حق لرل.

6. په دواړو طرفو کښی د سرما یه ګزاری حق لرل.

7.په دواړو طرفو کښی د ګمرک تاکس له مینزه وړل.

8.په دواړو طرفو کښی د خپلو اتپا عو غوندی دقوانینو تد بیق.

البته دا واظح ده چی دپورته زنو ما دو په تد بیق کښی به زنی مشکلات لکه دتعلیم په ساحه کښی دګډ تعلیمی نصاب نلرل مو جود وی، خو دا ټول مشکلات که ددواړو طرفونو ښه نیت موجودوی دحل لیا ری لری.

راشی وګورو چی اروپا څنګه یو دبل دامکا ناتو څخه د خپلو ګډوګټو لپاره استفا ده کوی ،ولی مونګ دا کار وه نشو کړای.

ددکار ګټی دواړوخواوته بیخی ډیری اوهیڅ طرف ته په کی کوم تاوان نشته چی منطیقی دلیل وه لری .

آیا که مونږ په دی کار موفق شو له دی وروسته به بیاهم زمونږ ترمنځ کوم سرحدی مشکل وی ؟ زما په نظر نه اوکه وی هم هغه به نا حلکیدونکی مشکل نه وی.

که مونږدواړه طرفه وه غواړو له دی هم په اینده کښی مخکی تلی شو یعنی یو وخت کولی شو چی یو ګد آسعار دمنطیقی په ستحه هم ولرو لکه اوس چی اروپا کښی مروج دی او حتا یو وخت ایران هم کیدی شی پدی اتحا دیه کی راګد شی.

داسی او نور دیته ورته ښه امکا نات د منطیقوی مشکلاتو دحال په لیا ر کښی شته خو که مونږ دی ته پام وکړو آوپسی وه گرزو.

راځی نور دجهالت دخوب حخه راویخ شو او دمنطیق او هاغه عقل څخه چی خدای پا ک راکړی د خپلو مشکلاتو دحل لپاره کار واخلو .

دا صمه ده چی وای تره کا نی دبیزو کار نه دی.یعنی دا زما او ستا د یو اودو کسو کار ندی ،دا د دواړو طرفود دولتونو کار دی ،چی یو بل ته قنا عت ورکړی دحل لیار پیدا کړی او تر ټولو دمخه دا وه غواړی.

موږ هریو هلته اودلته زنی کسانو سره رابته لرو چی زمونګ غګ تردولتی مسؤلینو پوری رسولی شی ،خو شرط دادی چی که مونګ ټول اول خپله دا وه غواړو اودی کار ته ټول په ګډه ملا وتړو.

ز ه دټولو وطن پرسته دوستا نو اصلا حی نظریاتو ته هرکلی وایم او له ټولو هغو کسانوڅخه دمخهمننه کوم چی ددی څو کرخو ویلو حوسیله ي ماته را وه بخله .

عارف بیان

دکیل ښار- جرمنی